# د افغانستان اسلامي جمهوریت

## دماليې وزارت

# ملي بوديجه

## ۱۳۹۴ مالي کال




**د ملي ګټو لپاره یوه اغیزمنه ، رڼه اوپر پايلو ولاړه بودجه**

بسم الله الرحمن الرحيم

# د 1394 مالي کال د ملي بودجې لړليک


| شماره | تفصيـــــــــــــــــيل | صفحه |
|---|---|---|
| | | |
| 1 | سريزه | 1 |
| 2 | د دولت پاليسي او موخې | 1-2 |
| 3 | سيمه ايز اقتصادى لرليد | 2-4 |
| 4 | د افغانستان اقتصادى کړنى په 1393 کال کى او 1394 کال وړاندوينه | 4-5 |
| 5 | د ملي بودجي د لګښتونو له لاري کارموندني | 5-6 |
| 6 | ۱۳۹۴ مالی کال مالی لرليد | 6 |
| 7 | د ۱۳۹۴ مالي کال مالي سر چيني | 6-8 |
| 8 | د ۱۳۹۴ مالي کال ملي بودجي لګښتونه | 8-12 |
| 9 | د تيرو څو کلونو لاسته راوړنو ته لنډه کتنه | 12-13 |
| 10 | د ۱۳۹۴ مالي د بودجي لنډيز او د ۱۳۹۳ کال لاسته راوړني د سکتورنو پر بنسټ | 13-25 |
| 11 | د وزارتونو او بودجوی وادحدونو د 1394 کال د پيامدونو او محاصلو جدول | 26-38 |
| 12 | بودجوی ريفورمونه | 39-42 |
| 13 | منځمهاله مالي چوکاټ | 43-44 |
| 14 | د قروضو راپور | 45 |
| 15 | د بودجي د اجراء اصولنامه | 46-48 |
| 16 | 1393-1394 مالی کلونو د بودجی پرتله | 49-51 |
| 17 | دويم جدول :د 1394 کال ملي بودجه | 52-54 |
| 18 | دريم جدول : د 1394مالي کال د ملی بودجي لنډيز او د تمويل سرچيني | 55 |
| 19 | څلورم جدول :د 1394 مالي کال ملي بودجه او د تمويل سرچيني | 56 |
| 20 | پنځم جدول :د 1394 مالي کال د ملي بودجي د تمويلی منابعو تفصيل | 57-58 |
| 21 | شپږم جدول:د 1394 مالي کال عادي بودجه | 59-63 |
| 22 | اوم جدول :د 1394 مالي کال پرمختيايي بودجه (اختياري او غيراختياري) | 64-66 |
| 23 | **اتم جدول ډ پرمختيايي پروژو جدول د ملي پرمختيايي ستراتيژی د سکتورونو پربنسټ** | **67-106** |
| | **د امنيت سکتور** | **67** |
| 23 | د ملي امنيت لوی رياست | 67 |
| 24 | د رئيس جمهور د ساتني رياست | 67 |
| 25 | د بهرنيو چارو وزارت | 67 |
| 26 | د کورنيو چارو وزارت | 67 |
| | **د واکمنی، د قانون د حاکميت او بشري حقونو سکتور** | **68-72** |
| 27 | د اداري درغليو په وړاندي د مبارزي عالي اداره | 68 |
| 28 | د سيمه ئيزو ارګانونو خپلواکه اداره | 68-70 |
| 29 | د دولت د رياست دفتر | 70 |
| 30 | د چارو د اداري او د وزيرانو د شورا دارالانشا | 70 |
| 31 | ستره محکمه | 70-71 |
| 32 | مشرانو جرګه ملی شورا | 71 |
| 33 | ولسی جرګه ملی شورا | 71 |
| 34 | لوی څارنوالی | 71 |
| 35 | د حج،ارشاد او اوقافو وزارت | 71 |
| 36 | په پارلماني چارو کي د دولت وزارت | 72 |
| 37 | د عدليي وزارت | 72 |
| 38 | د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون | 72 |
| 39 | د ټاکنو خپلواک کميسيون | 72 |
| 40 | د بشری جقونو خپلواک کميسيون | 72 |
| | **د زيربناوو او طبيعي زيرمو سکتور** | **72-84** |

| شماره | تفصـــــــــــــــــــيل | صفحه |
|---|---|---|
| 41 | د چاپيريال ساتنې ملي اداره | 72 |
| 42 | د ملکی هوانوردی اداره | 72-73 |
| 43 | د نوی کابل خپلواک بورډ | 73 |
| 44 | دافغانستان برشنا شرکت | 73-74 |
| 45 | د جيودوزی او کارتو گرافی رياست | 74 |
| 46 | کابل ښاروالی | 75 |
| 47 | د اوبو رسولو او کاناليزاسيون شرکت | 75 |
| 48 | د ښار جوړولو د چارو وزارت | 76 |
| 49 | د اوبو او انرژی وزارت | 76-79 |
| 50 | د ترانسپورټ وزارت | 79 |
| 51 | د ټولګټو وزارت | 79-83 |
| 52 | د مخابراتو وزارت | 83 |
| 53 | د کانونو او پطروليم وزارت | 83-84 |
| | **د پوهنې سکتور** | **84-93** |
| 54 | د علومو اکاډمی | 84 |
| 55 | د بدني روزنې او سپورټ رياست | 84-85 |
| 56 | د ملی راديو تلويزيون لوی رياست | 85 |
| 57 | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت | 85 |
| 58 | د لوړو زده کړو وزارت | 85-87 |
| 59 | د پوهنې وزارت | 87-93 |
| | **د روغتيا سکتور** | **96-100** |
| 60 | د عامې روغتيا وزارت | 96 |
| | **د کرهنې او کليو پراختيا سکتور** | **96-100** |
| 61 | د افغانستان څمکو خپلواکه اداره | 96 |
| 62 | د کليو پراختيا او بيارغونې وزارت | 96-98 |
| 63 | د کرهنې اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت | 98-100 |
| 64 | له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت | 100 |
| | **د ټولنيز مصؤنيت سکتور** | **100-102** |
| 65 | له طبيعي پيښو سره د مبارزې له پاره د چمتووالي ملي اداره | 100 |
| 66 | د کوچيانو د چارو د همغږي کولو رياست | 100 |
| 67 | د ښځو چارو وزارت | 100 |
| 68 | د سرحدونو، قومونو او قبايلو د چارو وزارت | 101 |
| 69 | د کډوالو او بيا را ستنيدونکو د چارو وزارت | 101 |
| 70 | دکار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو د چارو وزارت | 101-102 |
| | **د اقتصادي چارو د اداري او د خصوصي سکتور د پراختيا سکتور** | **102-103** |
| 71 | د مرکزي احصائيې اداره | 102 |
| 72 | په افغانستان کې د وړو تمويلي سرچينو د ملاتړ له پاره د اسانتياوو برابرول | 102 |
| 73 | اداره حمايت از سرمايه گذاری خصوصی | 102 |
| 74 | د کنټرول او تفتيش اداره | 102 |
| 75 | د ملی اقتصاد شورا دفتر | 103 |
| 76 | د اقتصاد وزارت | 102-103 |
| 77 | د سوداګری او صنايعو وزارت | 103 |
| 78 | د ماليې وزارت | 103 |

## 1- سریزه

څرنګه چې په اوسني وخت کي د افغانستان اقتصاد د نړیوالی مالی مرستي سره تړلی دی ، نو پدی هکله د ۱۳۹۳ کال د جمهوری ریاست ټولټاکنی او د آیساف قواو څخه افغان امنیتی قواوو ته د هیواد امنیتی مسؤلویتونو لیږد، د نړیوالو پراختیایی مرستو د تحقق او همدارنګه د هیواد پر اقتصادی کړنو باندی منفی اغیزې درلوده چې دغه دوه منفی اغیزې په ۱۳۹۳ کال هیواد ته کابو ۵ ملیارده امریکایی ډالره اقتصادی زیان رسولي دی.

د افغانستان اقتصادی ودي له 14.4% څخه په کال ۱۳۸۱ کی 3.6% ته په کال ۱۳۹۲ کی را ټیټ شوی دی. د هیواد د اقتصادی ودی د کموالي لامل د بهرنیو نظامی ځواکونو د وتلو ګنګوسي او تبلیغات او همدارنګه د ودی د پرمختیایی مرستو کموالی دی چې له کال ۱۳۹۱ څخه پیل او د ۱۳۹۳ کال سیاسی وضعیت لا پری منفی اغیزه وکړه.

خو حکومت په دوو ورستیو کلنو کی د پانګي اچوني د تشویق پالیسي او مالی سیاستونو په پلي کیدلو سره کوښښ کړی تر څو د اقتصادی بحران د رامنځته کیدو مخنیوی وکړي او نسبی اقتصادی ثبات وساتی. له دی امله په کال ۱۳۹۲ کی د پانګي اچوني د هڅولو پالیسي طرح شوه ترڅو د لیږد په بهیر کی د خصوصی سکتور د پانګي اچونی د جلبولو او دخلکو لپاره د کار موندني لاره هواروی. په دی پالیسي کی د خصوصی سکتور د سرمایه ګذاری په مقابل کی شته ستونزي په ګوته شوي او همدارنګه اړینی حل لاري د داخلی او خارجی پانګي اچوني د هڅولو لپاره پیژندل شوي دي.

په دی هکله د خصوصی سکتور لپاره په راتلونکي کلونو او په خاصه توګه د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کلونو کی د پانګي اچوني ځانګړی فرصت وه چه په افغانستان کی د پانګي اچونی په وړاندی د بی ساري امتیازونو څخه برخمن کیدل. ځیني امتیازونه او تشویقی اقدامات چه په هغه سند کی لیکل شوي تلپاتي او ځیني نوری هغه پانګه اچوني سره محدود دي چې په ذکر شوي دوو کلونو کی ترسره کیږی. د یادی تشویقي پانګی اچوني د طرحی په نظر کی نیولو سره تمه کیږی چی د پانګی اچونی کچه او په خاصه توګه د کانونو او نفت، کرهنی سکتور او صنعت کی پانګه اچونه چی افغانستان ته نسبی ښیګڼي لري زیاتوالی مومی او خلکو ته د تلپاتي کارموندنی لاره هواره کړی.

په داسی حال کی د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کلونو په اوږدو کي د مالی پالیسی په برخه کی هم ځني کړنی د کورنیو عوایدو او د نا اړینو لګښتونو د مخنیوی لپاره ترسره شوي دي. سره لدی چی په تیرو دوو کلونو کی کورني عواید په زیاته کچه زیانمن شوي خو د اړینو کړنو په کارولو او د لګښتونو د کنترول او لومړیتوب ورکوني او د ځینو عایداتی توکو د عوایدو زیاتوالی سره د فعالیتونو ادامه او لومړیتوب لرونکو پرمختیایی پروژو د پلي کولو سره د مالی ناورین د رامنځته کیدو څخه مخنیوی شوی دي.

د غیر اختیاری پروژو په هکله چی د دونرانو له خوا تمویلیږی هم د دوی دهمغږی سره کار یي په ښه توګه روان دی. او د هغو اختیاری لومړیتوب لرونکو پروژو په هکله چه د پلي کیدا په حال کی وي هم کوښښ شوی تر څو په پلی کیدو کی یی ستونزي پیدانشی چې تر اوسه د اوسني مالی وضعییت سره سم رواني دی

د ۱۳۹۴ مالی کال بودجه د ۱۳۹۳ کال د جمهوری ریاست د ټولټاکنو څخه وروسته او نوی حکومت او ولسمشر د کار د پیل سره جوړ شوي چی بی له شکه اقتصادی تاثیرات او مالی محدودیتونه د دی بودجي په جوړولو کی اغیزمنه وه. د ۱۳۹۳ کال مالی فشارونه او د مالی محدودیتونو کسر یو د هغو مهم لاملونو څخه دی چی د ۱۳۹۴ کال د بودجي په ترتیب کی اغیزه کړي ده. په دی هکله د ۱۳۹۴ مالی کال بودجه چه کابو 436.172 ملیارده افغاني کیږی او تقریباً 32٪ نا خالصه داخلی تولیدات تشکیلوی، دموجوده مالی محدودیتونو په نظر کی نیولو سره د دولت د عادی لګښتونو او هغه پروګرامونه او پروژی چی د پلي کیدو په حال کی دي د کار د ادامي لپاره وړاندوینه شوي دی.

د ۱۳۹۴ کال په ملی بودجه کی زیاتره د دولت د عادی لګښتونو او د هغو پروګرامونو او پروژو چی د پلي کیدو په حال کی دي او یا نیمه کاره پاتي دي پاملرنه شوي.

## 2- د دولت پالیسي او موخي:

د دولت منځ مهاله موخي یو با ثباته پرمختیایی اقتصاد دی او هڅه کیږی چی اقتصادی ودی لا پیاوړی او د کار موندنی او د فقر کموالی لامل وګرځی. په دی اړه حکومت غواړی چی د دولتی او خصوصی پانګه اچوني سره د اقتصادی پراختیا او ودی لپاره زمینه برابر کړی. په داسی حال کی چی افغانستان د نړیوالو بسپنو ته اړتیا لری او سره له دی چی کابو 71٪ ملی بودجی د یادو مرستو لخوا تمویلیږی، د هیواد 80٪ اقتصاد هم د همدغو مرستو پر مټ ولاړ دی، نو په اوسنی حالت کی د هیواد اقتصادی ودي د کورنیو خصوصی او بهرنیو پانګه اچونی او همدارنګه دنړیوالو پرمختیایی مرستي د جلبولو پرته شونی ندی.

د دولت بودجې چې د عادی لګښتونو او بنسټیزو پراختیایي پروګرامونو او پروژو د تمویل لپاره په بیلابیلو سکتورونو لکه: زیربنا او طبیعي زیرمي، پوهني، لوړو زده کړو، روغتیا، کرهنه او دکلیو پراختیا، مسلکی مهارتونه، ټولنیز خوندیتوب، عوایدو ټولول، د عامه لګښتونو او مالی چارو ښه والي ، د خصوصی پانګه اچوني د جذبولو او د سوداګري د پراختیا لپاره ځانګړی شوي دي، چې د دولتی خدمتونو د وړاندی کولو، د بنسټونو جوړولو، د پانګه اچونی هڅول، اقتصادی ودي او د بیوزلي کموالي لپاره لاره هواروی.

د ۱۳۹۴ کال ملی بودجه د افغانستان د پراختیایی ستراتیژي، لومړیتوب لرونکو پروګرامونه او د نوی حکومت د پالیسیو سره سم جوړ شوي چې هدف یې د عوایدو راټول او د دولت پراختیایی پالیسیو د پلي کیدو، د عامه مالی چارو او لګښتونو د سیستم په چوکات کی دی، چې په پایله کی دولت، ملت او نړیوالي ټولنی ته چې د دی بودجې زیاتره برخه تمویلوی ځواب ویونکی وی.

د دولت په ټولو برخو او اورګانونو کی د امینت ټینګول او د یوی سالمی اداری جوړول د حکومت د مهمو پروګرامونو څخه دی، ځکه چې د هیواد د هر وګړی او په خاصه توګه د پانګه والو د فزیکی او روانی امینت نشتوالي له مهمو اندیښنو څخه شمیرل کیږي، او همدا شان نا سالمه اداره د پانګه اچونی په هکله یو د دخنډونو څخه ده.

په ښوونځیو او مدرسو کی د لومړنیو زده کړو د جذبولو د وړتیا زیاتوالی چې د دی هیواد د ماشومانو راتلونکي تضمینوی، د دولت له مهمو کاری پلانونو څخه دی. په دی اړه د زده کړی او زده کړه ییز توکو برابرول، د مدرسو د پوهی د کچې زیاتوالی او د مسلکی او لوړو زده کړو لرونکو ښوونکو په کار ګمارنه د دولت له لومړیتوب لرونکو پروګرامونو څخه دی.

د بنسټیزو او لومړیتوب لرونکو پراختیایی پروګرامونو او پروژو د پلی کیدو ګرندیتوب چې د اقتصادی بنسټونو اساس جوړوی هم د دولت د کاری لومړیتوبونو او ۱۳۹۴ کال ملی بودجې په لومړی سر کی ځای ورکول شوی. د ۱۳۹۴ مالی کال په پراختیایی بودجه کی 2.678 میلیارده ډالره د بنسټیزو پروژو لکه سړکونه، د بریښنا او اوبو بندونه، د بریښنا د شبکی پراختیا، د کانونو په سکتور کی پانګه اچونه ، هوایی ډګرونو جوړول او ښاری پلانونو د طرحي.. اوداسی نورو پروژ د کار دوام او تکمیلولو لپاره په پام کی نیول شوی دی.

دولت غواړی چې د هیواد مواصلاتی لاري په معیاری توګه پراختیا ومومی تر څو له دی کار سره د نړیوالی ترانیزیتی لارو ته زمینه برابر شی. او همدا رنګه د کانونو، نفت او ګاز په سکتور کی د پانګه اچونی جذبول د دولت له نورو لومړیتوب لرونکو کاری پروګرامونو څخه دی، چې په دی هکله د کانونو د قانون تصویب او د کانونو د ایستلو کړنلاره د پانګه اچونی په جذبولو کی له مهمو کړنو څخه ګڼل کیږی.

په دی سکتور کی پانګه اچونه کولای شي د بی روزګاري په کموالي او د کورنیو عوایدو زیاتوالی او همدارنګه د لسګونو اقتصادی کړنو رامنځته کول او په اوږد مهاله موده کی د افغانستان په اقتصادی پراختیایی وده کی به مهم رول ولری.

په همدی توګه د کرهنی سکتور پراختیا چې د کورنیو صنایعو د رامنځته کولو، د کورنیو تولیداتو پیاوړتیا او بالآخره د اقتصادی عواملو د خوځښت لامل ګرځی د پام وړ برخو څخه شمیرل کیږی. پدی برخه کی د کال ۱۳۹۴ په ملی بودجه کی کابو ۱۴۲میلیونه ډالره د پراختیایی پروژو په برخو کی لکه اصلاح شوي کرهنیز تخم او کیمیاوی سره، د نباتی آفاتو او ناروغیو سره مبارزه، د څیرنیز ، ترویجي او تولیدی فارمونو د پراختیا او بیا رغول، د اوبو لګولو کانالونه، د سړی خوني جوړول او د ځنګلونو د بیا رغونی او ساتني لپاره ځانګړي شوی دي.

همدا رنګه د مسلکی او حرفوی زده کړی پیاوړتیا هم له مهمو برخو څخه ګڼل کیږی ترڅو لدی لاری په استفادی د حرفوی او مسلکی وکړنیزو سرچینو رامنځته کول او د کارموندنی په برخه کی مهم رول لوبوی او همدی لاری د بیکاری دکچې په ټیټوالي او دکورنیو د عوایدو په زیاتوالي لازمه مرسته کوی

## 3- سیمه ایز اقتصادي لرلید

افغانستان د جغرافیایی موقیعیت له نظره خاص اهمیت لری چې دغه هیواد د آسیا په مرکز کی موقیعیت لری او شمالی آسیا د سویلی او ختیز آسیا او منځنی ختیز سره نښلوی. دغه ځانګړي موقیعیت د آسیا د بیلابیلو سیمو سره د بیلابیلو نړیوالی سوداګری ته لاره برابره کړیده. د افغانستان نړیوالی سوداګرۍ په پراخه توګه د مرکزی او جنوبی آسیا او منځنی ختیز هیوادونو سره یوځای شویدی. د سیمه ایزاقتصادی پراخه لرلید په هکله او دا چې څرنګه نړیوالی سوداګرۍ او اقتصادی پالیسی په افغانستان کی تشکیل ورکوی په لاندی توګه توضیح شویدی.

## 3-1. سویلي آسیا

سویلی آسیا چې د پاکستان، هندوستان، بنګلدیش، او سریلانکا هیوادونو څخه جوړه شوی، د چټک اقتصادی ودی له نظره د نړی په کچه دوهمه سیمه ده، او تمه کیږی چې دوامداره وده ولری.

د سویلی آسیا ناخالصه تولیداتو وده (GDP) د بازار په نرخ په کال ۲۰۱۳کی کابو 4.7% او وړاندوینه کیږی چې په کال ۲۰۱۴ کی 5.3% او په کال ۲۰۱۵ کی 5.9% او په ۲۰۱۶ کی 6.3% ته ورسیږي. په همدی توګه هیله کیږی چې داخلی واردات یی له منفی 0.1% څخه به په کال ۲۰۱۴ کی 4.3% او په کال ۲۰۱۵ کی 6.3% ته زیاتوالی ومومي.

هیله کیږی چې د هندوستان اقتصادی وده چې په سیمه کی تر ټولو لوی هیواد دی په کال ۲۰۱۴ کی 5.6% او په کال ۲۰۱۵ کی 6.4% ته ورسیږی. ددی نه وروسته پاکستان قرار لری چې هیله کیږی اقتصادی وده یی په کال ۲۰۱۴ کی 4.1% او په ۲۰۱۵ کالی کی 4.3% ته ورسیږی، خو د سیاسی او ضاع له امله چې په پاکستان کی شتون لری کیدای شی اقتصادی وده یی د سویلی آسیا د نورو هیوادونو په پرتله کموالی ومومی.

## 3-2. منځنی ختیځ او شمالي افریقا

د منځنی ختیځ او شمالی افریقا هیوادونه د ۲۰۱۳ کال یوه دوره نسبی رکود څخه وروسته مخ په ښه کیدو دی او هیله مند کلونه په مخ لری. د اقتصادی ودي کچه په ۲۰۱۳ کال کی 1,9% وه ، او اټکل شوی چې په کال ۲۰۱۴کی 2.9% او په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کی به 3.8% ته زیاتوالی ومومی. د ۲۰۱۴ کال سیمه ایزی شخړی او د صادراتو کموالی د اقتصادی رکود سبب شو خو په داسی حال کی چې د نفت صنعت او تولیداتو ښه والی او همداسی د صادراتو کچه د دوي په اقتصادی وده کی مرسته کوی.

سره لدی چې ځینی هیوادونه د سوله ایز سیاسی انتقال له لاری پرمختګ کړی خو د سیمه اقتصادی وده لا هم د احتمالی کچې څخه ټیټه ده. دغه سیمه اوس هم د امنیتی ستونزو سره مخامخ دی او د هیوادونوسوداګري او د سیمه ایز ټولیز اقتصادی وده ضربه رسیدلی ده. د وروستیو بی ثباتی له امله چې په عربی هیوادونوکي پیدا شوه د لوی مالی ناورین دمنځته راتلو لامل شو او عوایدو هم په زیاته کچه کم شول. او بر علاوه خصوصی پانګه اچوني د سیمی په پرمختللی هیوادونه د ۲۰۱۳ کال په مقایسه ۳۸٪ کموالی وموند.

ددی ټولو سره سره هیله کیږی چې ځیني هیوادونه دوامداره وده ولری. د خصوصی پانګه اچوني د جریاناتو د کموالی سره سره ، د دولت کورني پانګه اچوني او مرستو د دغه نقیصی په جبرانولوکی مرسته کوي. په همدی توګه د نفتو اسمی قیمتونه په اوسطه توګه ۱۰۳ ډالر فی بیلر په ۲۰۱۴ کال کی تخمین شوی دی او تمه کیږی چې په کال ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کی به ۹۹ او ۹۸ ډالره په هر بیلر کی کموالی ومومی. او سربیره د پرمختللو هیوادونو وده له 3.6% څخه په ۲۰۱۶ کال کی پیل شی.

د سیمی لرلید هم د منفی خطرونو سره مخ دی او کیدای شی چې د یو لړ ستونزو سره مخ شی چې دغه ستونزی اکثراً په کور دننه کی دی. د شخړو زیاتوالی د سیمی اعتبار کموی او د اصلاحاتو جوړښت د خنډونو سره مخامخ کوی او د نفتو د تولیداتو لامل کرځي.

له بلی خوا د نورو سیمو نابېره اغیزی د سیمی د اقتصادی حالت د خراپیدو او ګواښونو لامل ګرځي.

## 3-3. منځنی آسیا، د روسیی فدراسیون، ترکیه او د اروپایي اتحادیه

په مرکزي آسیا کی څلور هیوادونه ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان او قرغزستان شامل دی په داسی حال کی ځینی ادارات قزاکستان هم ور شاملوی. په همدی توګه ځینی وقت افغانستان هم د مرکزی آسیا دبرخی او ځینی وخت د جنوبی آسیا برخه بلل کیږي.

د روسیی فدراتیف هم لوی اقتصاد لری او همداشان اروپایی اتحادیه چه له ۲۹ هیوادونو څخه تشکیل شوی چې په دی وروستیو کی اوکراین هم ور شامل شوی. هیله کیږی چې د مرکزی آسیا د کورنیو ناخالصو تولیداتو حقیقی وده له 3.6% څخه په کال ۲۰۱۳ کی 2.4% ته په کال ۲۰۱۴ کی کموالی ومومی او وړاندوینه کیږی چه دغه وده بیا خپل صعودی مسیر په کال ۲۰۱۵ کی پیل کړی.

قزاکستان او ترکیه د افغانستان له اصلی تجارتی شریکانو څخه بلل کیږي. او پیشبیني شوي چې د قزغزستان دکورنیو ناخالصو تولیداتو حقیقی وده په کال ۲۰۱۴ کی به 5.1% ټیټه شی، په داسی حال کی هیله کیږی چې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونه کی به دغه وده بیا به 5.9% او 6.0% ته په ترتیب سره لوړه شی.

ددی سربیره پیشبینی شوي چی د ترکيي اقتصادي وده د ۲۰۱۴ کال تر پایه به کموالی ومومی ځکه هیله کیږی کورني ناخالصه تولیدات یی له 4.0% څخه 2.4% ته کموالی مومی، همدا رنګه پیشبینی شوي چی په کال ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کی وده به په ترتیب سره 3.5% او 3.9% ته زیاتوالی ومومی

دا د نړیوالی اقتصادی شا تګ (وروسته پاتی) سره اړیکه لری په داسی حال کی چی هیله کیږی د غه شا تګ (وروسته پاتی) به په موقتی توګه وی اوپه راتلونکي کی به دغه وده بیا پیاوړی شی. دغه وروسته پاتي د ۲۰۱۴ کال د متحده ایالاتو د سخت ژمی او همداسی د شرقی اروپا د جغرافیایی سیاسی فشارونو له امله بلل کیږی، چی په نتیجه کی د یو لړ کړنو بیا اجرا کولو ته اړتیا لری چی کیدای شی په قسمی توګه صورت ومومی. چی بالاخره نړیواله وده په کال ۲۰۱۴ کی 2.8% او د پرمختللو هیوادونو وده به 4.8% ته ورسیږی.

ددی علاوه څرنګه چی په لاندینی جدول کی ښودل شوي د ځینو انتخاب شوو هیوادونو لپاره نړیواله وده په کال ۲۰۱۵ کی 3.4% او په کال ۲۰۱۶ کی 3.6% وړاندوینه شوي چی د لوړو عواید لرونکو هیوادنو رول په کی زیات دی، چی په نتیجه کی کارمونډنی به زیاتي شی او مالی وضعیت به په برابر ډول پاتی شی. د پرمختللو هیوادونو وده هم له دغو پرمختګونو څخه ګټه واخلی لکه چی په ۲۰۵ او ۲۰۱۶ کلونو کی به په ترتیب سره 5.5 او 5.5 سلنی وي.

| دکورنیو ناخالصو حقیقي تولیداتو وده | 2012 | 2013 | وړاندوینه 2014 | وړاندوینه 2015 | وړاندوینه 2016 |
|---|---|---|---|---|---|
| منځنۍ اسیا واروپا | 1.9 | 3.6 | 2.4 | 3.7 | 4.0 |
| قزاکستان | 5.0 | 6.0 | 5.1 | 5.9 | 6.0 |
| دروسيي فدراسیون | 3.4 | 1.3 | 1.3 | 2.3 | N.A |
| ترکیه | 2.1 | 4.0 | 2.4 | 3.5 | 3.9 |
| اقتصادي ټولني اوديورو وجهی -ایریا | -0.6 | -0.4 | 1.1 | 1.8 | 1.9 |

*منبع: د نړیوال بانک اقتصادی لړ لید، جون ۲۰۱۴*

څرنګه چی افغانستان له يادي هیوادونو څخه واردات لری نو پدی اساس په لویو اقتصادی کچو بدلونونه په افغانستان باندی هم مثبت او یا منفی اغیزي لري. د مثال په توګه د دغو هیوادونو پولی اررښت کموالی د افغانستان لپاره د ارزانه وارداتو په معنی دی، چی په نتیجه کی به په افغانستان کی یو شان پیرودل قدرت زیاتوالی ومومی او پدی اساس د وارداتي اجناسو غوښتنه به زیاته شی. په همدی ډول د نفتی موادو په کموالی او یا هم د نفتی مواد لرونکوی هیوادونو د وړاندي کولو کموالی د بیو دزیاتوالی لامل کیږی چی په نتیجه کي د وارداتو بیي زیاتیږي او د افغانستان د وارداتی توکو کچه به هم کموالی ومومی.

## 4- د افغانستان د ۱۳۹۳ کال اقتصادي کړني او د ۱۳۹۴ کال وړاندوینه

د ۱۳۸۸ او ۱۳۹۳ کلونو په موده کی د افغانستان اقتصادی وده په منځنی توګه کابو 7.8% وه، د سړی سر عاید (عاید سرانه) صعودی شکل لری چی د ۱۳۸۸ کال له 439.2 امریکایي ډالرو څخه په کال ۱۳۹۳ کی 668 ډالرو ته رسيدلی دی. د ۱۳۹۲ کال ناخالصه کورني تولیدات 11.450 میلیارده ډالره وو او د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کلونو لپاره په ترتیب سره 1.263 او 1.378 میلیارده افغانی وړاندوینه شویده او د مخکینیو وړاندوینو پر بنسټ د نا خالصه اسمی کورنیو تولیداتو وده په کال ۱۳۹۲ کی کابو 10.5% اټکل شوې وه.

خو د ۱۳۹۳ کال د جمهوری ریاست د ټاکنو د اوږدوالی او د سیاسی حالت له امله کورنی عواید نژدی ۲۷٪ کموالی وموند، خصوصی پانګه اچونه کمه شوه او د کرهنی او صنعت سکتورنه د خدمتونو وړاندی کولو د کموالی سره مخ شوه. د ناخالصو کورنيو تولیداتو د ودی کچه په کال ۱۳۹۳ کی کابو ۹٪ ته ورسیده، او همدا رنګه په ۱۳۹۳ کال د ناخالصو کورنیو تولیداتو حقیقی وده د ۳-۴ ٪ ترمنځ وړاندوینه شویده، په داسی حال کی چی د مرکزی احصایی د حقیقی ارقامو پر بنسټ د ۱۳۹۲ کال حقیقی ناخالصه کورنیو تولیداتو وده 6.4% ته رسیده.

څرنګه چی په اوسنی وخت کی دا فغانستان اقتصادی کړنی زیاتره د نړیوالو مرستو سره نښتي دی، د مرستو ورو ورو کموالي او د نړیوالو ځواکونو وتل پر سوداګریزو، صنعت او نورو اقتصادی کړنو باندی مخامخ اغیزه لری.

د اقتصادي کړنو کموالي، د پانګه اچونې کموالی او د کورنیو مارکیټونو څخه د اسعارو( په خاصه توګه ډالر) وتل د افغانیو او بهرنیو اسعارو (په خاصته توګه ډالرو) په وړاند پر نوساناتو باندی مهمه اغیزه لری. د ۱۳۹۳ مالی کال په جریان کی د خارجی اسعارو نوسانات او د تبادلی بیه په خاصه توګه د افغانیو په وړاندی د ډالرو بیه له ۵۶ افغانیو څخه نږدی ۵۸ افغانیو ته پورته شوی ده.

خو وړاندوینه کیږی چې موجوده حالت د لنډی مودی لپاره وی او د امنیتی مسؤلیتونو د لیږد بهیر د بشپړیدو او د نوی حکومت د کار د پیلیدو وروسته د خصوصی سکتور شته وسوسی به لری او پانګه وال به بیا په بیلابیلو ځانګو کی پانګه اچونی ته وهڅول شی.

همدارنګه دولت هغو بنسټیزو پرمختیایی پروژو ته چې اوس مهال د پلی کیدو په حال کی دی تمویل او بشپړولو ته ژمن دی، چی د هیواد په لیرو سیمو کی د امنیتی حالاتو ښه کیدو سره تمه کیږی چې د پرمختیایی پروژو لکه سړکونه، د اوبو او برېښنا بندونه، هوایی ډګرونه جوړول، د مکتبونو، روغتونونو او روغتیایی کلینیکونو جوړول، د کرهنی پراختیایی پروژي او د کلیو د پراختیا پروژي کار د ملی بودجی له لاری ګړندی شی.

دولت د هیواد په ایستونکو صنایعو (کانونه او نفت) باندی پانګی اچونی لپاره لاره هوارولو ته ژمن دی کوم چې په کارموندنی، د کورنیو عواید زیاتوالی، او اقتصادی وده کی مهم رول لری.

پورتنیو موضوعاتو ته په پام سره وړاندوینه کیږی چې په ۱۳۹۴ مالی کال کی د کورنیو نا خالصو تولیداتو د ۹٪ ودی سره 1.377 میلیارده افغانیوته ورسیږی، او په منځ مهاله موده کی د ناخالصو کورنیو تولیداتو حقیقی وده له ۵ نه تر ۷ سلني پوری وړاندوینه شوی ده.

## 5- د ملي بودجي د لګښتونو له لارې کارموندني

د دری لسیزو پرله پسی جګړي نه یواځی د موږ هیواد او اقتصادی بنسټ د خرابیدو لامل ګرځیدلی بلکه په کاری ځواک باندی هم بده اغیزی پرینبی ده. کاری ځواک اوس هم د بیوزګاری ، کمکاری او بیوزلی څخه ځوریږی. له کال ۱۳۸۱ څخه را پدی خوا زیاتره له 5.7 میلیونه مهاجر هیواد ته راستانه شوی چی د کار بازار باندی بی زیات فشار اچولی دی. په کلیو او شخصي کارونو په شمول د کارګرانو او فامیلی کارګرانو په منځ بیوزګاری او کمکاری زیاته شوی چې د۱۳۹۱ کال وړاند ویل شوی ټولټال 7.2 میلیونه کاری ځواک 15.2% برخه جوړوی.

د ملي یووالی نوی حکومت د پیاوړي ژمنو پر بنسټ هوډمن دی ترڅو نوی کاری فرصتونه د خصوصی سکتور د ملاتړ او د متشبثینو او نړیوالو همکارانو د هڅولو له لاری د سیمه بیزو تولیداتو د ګټه اخیستلو او خدمتونو د وړاندو کولو څخه منځ ته راولی. د بازار موندنی د لا ښه ودی لپاره، دولت باید د اقتصادی ثبات، امینت، ښه حکومتوالي، موثره پانګه اچونه، بانکداری او مشورتی خدمتونه د وړاندی کولو په هکله ځینی کارونه تر سره کړی چی دا د کورنیو او بهرنیو پانګه والو لپاره د آسانتیاوي د برابرولو لامل ګرځي. خو حکومت یواځی د بی وزګاریي د ستونزو د حلولو توان نلری او اوس له ۱۵٪ څخه زیاته بی وزګاري شتون لری

د مالیی وزارت د وړاندوینی پر بنسټ د حکومت د هر ۱۴۰۶۰۰ افغانی اضافی مصرف په لګولو سره د زیاتره اقتصادی کارموندنی زمینه برابره وی. نو پدی اساس د مختلفو پرمختیایی لګښتونو د پلی کولو د بیو پر بنسټ ځیني فرضیی چی د ۱۳۹۴ مالی کال بودجه د کارموندنی زمینه برابره وی په لاندی توګه په نظر کی نیول شویدی:

- که فرض شی چی د ۱۳۹۴ مالی کال بودجی د پلی کیدو کچه ۵۰٪ ته ورسیږی چی پدی توګه ټولیز لګښت به 7.5 میلیارده افغانیوته ورسیږی او دا مصارف د ۱۳۹۳ کال د مصارفو سره برابر دی، نو د هغه حالت سره په پرتله چې که چیری د دولت مصارف تغییر ونګری، تمه کیږی ۵۴۰۰۰ اضافی دندی رامنځته شی.
- د ۱۳۹۴ کال پراختیایی ٪۶۰ بودجی لګښت کولای شی 25.8 میلیارده افغانی ټولیزه لګښت د ۱۳۹۳ کال په پرتله زیات کړی. نو د هغه حالت سره په مقایسه چې که چیری د دولت مصارف تغییر ونګری، تمه کیږی ۱۸۳۰۰۰ اضافی شغل ایجاد شی.
- که د پراختیایی بودجی لګښت ٪۸۰ ته ورسیږی چی په ټولیزه ډول 62.2 میلیارده افغانی لګښت د ۱۳۹۳ کال په پرتله زیات شی، نو د هغه حالت سره په مقایسه چې که چیری د دولت مصارف تغییر ونګری، تمه کیږی ۴۴۳۰۰۰ اضافی دندی به رامنځته شی.

هیله کیږی چې د کارموندنی زیاتوالی سره ناخالصه کورنی تولیدات هم زیات شی. وړاند وییړه شوی چې د هر ۱۰۰ افغانی لګښت کولای شی د ناخالصو تولیداتو وده ته ۶۴ افغانی ته جګه شی. او دا د هغه حالت سره په مقایسې چې که چیری د حکومت مصارف تغیر و نه مومی ، په بودجه کی د دولت اضافی مصرف د 7.5 میلیارده، 25.8 میلیارده او 62.2 میلیارده افغانی د پورتینو فرضیو پر بنسټ کولای شی د هیواد ناخالصو تولیداتو په ترتیب سره د 0.4 ,1.3, 3,1 سلنه زیاتوالی وموموی.

خو، څرنګه چې یادونه وشوه د حکومت لګښتونه د ناخالصو کورنی تولیدات د ودی لامل ګرځی، خو د اقتصادی رکود له امله خصوصی لګښت یی چې یو مهم عنصر دی کموالی مومی. او په هغه صورت کی زیاتوالی مومی چې خصوصی سکتور یو ځل بیا په اقتصاد باندی تکیه وکړی.

د کارموندنی ګټی چې د دولت د اضافی لګښتونو له امله د دی لاري څخه منځ ته راځی په لاندی ډول دی:

لومړی: د دولت په دننه په مستقیمه توګه عمده کاری فرصتونه برابریږی. تنخاګانی او روز مزد چې د عادی بودجې عمده لګښتونه تشکیلوی هر کال مصرفیږی. د دولتی مامورینو تشکیلات په تیرو لسیزو کی په کال ۱۳۸۴ کی له ۳۶۵۹۰۰ کسانو څخه په کال ۱۳۹۳ کی ۸۴۶۴۳۶ کسانو ته زیات شوی، چې د ا د مالیاتو د راټولو او په بودجې کی د اضافی وجوه له امله منځ ته راغلی. د ۱۳۸۱ کال را پدیخوا اضافی کارکوونکی د اساسی پراختیا او ملت جوړوني کی مهمه مرسته کړی چې د بودجوی واحدونو د زیاتوالی او اغیزمنو خدمتونو د وړاندی کولو لامل شوی.

دوهم: پر مختیایی پروژې چې د حکومت په واسطه په بیلابیلو اقتصادی سکتورونو او ولایتونو کی پلی کیږی لکه سړکونه، روغتیایی کلینکونه، مکتبونه، د اوبو او برښنا بندونه د افغانانو لپاره د مهمو کارموندنو فرصتونو د برابرولو لامل شوی، د داسی زیربناو په جوړولو سره به په هیواد کی اقتصاد تولیدی او د کارموندنی او اقتصادی کړنی زیاتی شی.

دریم: د حکومت په واسطه لګښتونه په خصوصی سکتور کی د کارموندنی لامل ګرځی، ځکه چې د هیواد سوداګری د اجناسو او خدمتونو د برابرولو سره چې حکومت له لاری پیرودل کیږی پراختیا مومی. او هر څومره چې د حکومت له لاری دغه خدمدتونه او توکی وپیرل شی هغومره په خصوصی سکتور کی د کارموندنی زمینه منځ ته راځی.

## 6- د ۱۳۹۴ مالی کال مالی لرلید:

### 6-1. د ۱۳۹۴ مالي کال مالي سر چینې

#### الف: کورني عواید

څرنګه چې د هیواد اقتصادی وضیعیت په کورنیو عواید باندی مخامخ اغیزه لری ، نو د ۱۳۹۳ کال د جمهوری ریاست د ټولټاکنو اوږدوالی او له افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو وتل د هیواد په اقتصادی وضع باندی ډیره منفی اغیزه وکړه. چې دغه منفی اغیزی د افغانستان په اقتصاد د ۱۳۹۳ کال لپاره به ۵ میلیارده ډالره وی او همداشان کابو له ۳۰ میلیارده افغانی په کورنی عوایدو کی کموالي رامنځته کړی.

د ۱۳۹۳ مالی کال په پیل کی د داخلی عوایدو پلان 133.8 میلیارده افغانی تخمین شوی وو، اما د افغانستان د مالی سیستم د راپور په اساس د ۱۳۹۳ مالی کال تر پایه ټولټال ۹۶میلیارده افغانئ کورنی عواید به ټول شی چې په دی صورت کی کابو ۳۷ میلیارده افغانئ کسر د عوایدو په پلان کی منځته راځي.

اما دا چې نوی حکومت خپل کار د ړوڼتیا او اقتصادی پرمختک د نوی پالیسیو پر بنسټ پیل کوی ، هیله کیږی چې په ۱۳۹۴ مالی کال کی به اقتصادی فعالیتونه بیا پیل شی چې پدی صورت کی به پر داخلی عوایدو باندی زیاته اغیزی ولری. اما امکان لری چې د ۱۳۹۳ کال منفی اقتصادی اثرات به د ۱۳۹۴ کال د اول او دوهم ربعی پوری ادامه ولری چې پدی صورت کی وړاندوینه کیږی چې د ۱۳۹۴ کال داخلی عواید نه یواځی ښه صعودی تګ ولری بلکه ډیر ورو صعودی سیر به ولری.

| ٪ | 1394 | د کورنی عواید وړاندوینه (ارقام په میلیون افغانی) |
|---|---|---|
| **73%** | **91,477.30** | **مالیاتی عواید (تکس)** |
| 26% | 32,581.89 | مالیه پرعایداتو، ګټه او ګټه د پانګه اچونه حصول لپاره |
| 25% | 31,058.47 | مالیه پر راکړی ورکړی او نړیوال سوداګری |
| 16% | 20,518.35 | د توکو او خدمتونو کورنی مالیه |
| 6% | 7,318.59 | نور مالیاتی عواید |
| **25%** | **31,522.70** | **غیر مالیاتی عواید** |
| 2% | 2,388.61 | د تیلو د حق العبور عواید |
| 1% | 1,794.28 | د اوسپنی پټلی عواید |
| 22% | 27,339.81 | نور غیر مالیاتی عواید |
| **2%** | **2,513.00** | **نور کورنی عواید** |
| 2% | 2,000.00 | د کانونو او پطرولیم عواید |
| 0% | 456.00 | د پیروزی ښارګوتی عواید |
| 0% | 57.00 | د نوی کابل بورد عواید |
| | | |
| **100%** | **125,513.00** | **د کورنی عواید ټولټال** |

همدارنګه د ۱۳۹۴ مالی کال عواید د هیواد اقتصادی وضعیت او د ۱۳۹۳ مالی کال د حقیقی عوایدو په تناسب 125.513 میلیارده افغانی تخمین شویدی، چی کابو 29.5 میلیارده افغانی (۳۱٪) د ۱۳۹۳ کال ه د عوایدو په نسبت زیاتوالی ښیئ.

کورنی عواید د مالیاتی او غیر مالیاتی عوایدو څخه عبارت دي چی زیاتره برخه یی د مالیاتی عوایدو له درکه دی چی تفصیل یی په لاندی جدول کی ذکر شویدی.

څرنګه چی لیدل کیږی عواید د مالیاتو پرعایداتو، مفاد، او د سرمایی پر حصول باندی مفاد له درکه د ټولټال داخلی عواید تقریباً ۲۶٪ برخه تشکیلوی.

د راکړی ورکړی او نړیواله سوداګری له درکه د عوایدو تقریباً ۲۵٪ برخه تشکیلوی

د غیر مالیاتی عوایدو برخه په مجموع کی تقریباً ۲۵٪ ته رسیږی چی د تیلو د حق العبور او د اوسپني د پټلی (خط آهن) عواید یی عمده توکی دی.

همدا رنګه د کانونو عواید او د ښار جوړونی وزارت او د نوی کابل ښار د مستقل بورد له اړوند ښارګوټی پلولرو او فیسو له درکه عواید چی په کورنیو عواید په ټولټال کی شامل او محاسبه شوی د عوایدو ۲٪ برخی جوړوی.

د عوایدو پورته ذکر شوی هدف ته د رسیدلو لپاره باید ځینی مالي او ګمرکی تعرفو په نرخو زیاتوالی راشی، چي په لاندې جدولونو کي ښودل شوې دي.

د یادلو وړ ده چي د مالیتی او ګمرکی تعرفو زیاتوالی د اړوندو مالی قوانینو تعدیل ته اړتیا لري او که چیری دا قونین تعدیل نشی نو پدي صورت کي به د عوایدو ټاکل شوی هدف ته رسیدل ممکن نوی.

په مالیتی او ګمرکی تعرفو کي زیاتوالی په لاندي جدولونو کي خلاصه شوی دی.

اول جدول :د مالیه د عوایدو په نرخ کي تغیرات

| شمیره | نوع مالیات | اوسنی مالیه نرخ | نوی مالیه نرخ / پیشنهادی |
|---|---|---|---|
| 1 | د انتفاعی معاملاتو مالیه | 2% | 4% |
| 2 | د مبایل کریدت کارت | 0% | 10% |
| 3 | د تیلو فیس | 1 افغانی | 2 افغانی |
| 4 | د هوایی حق العبور عواید | ۴۰۰ امریکایی دالر | ۵۰۰ امریکایی دالر |

دوهم جدول:د ګمرکاتو د تعرفو په نرخ کي تغیرات

| شمیره | نوع مالیات | اوسنی تعرفه نرخ | نوی تعرفه نرخ / پیشنهادی |
|---|---|---|---|
| 1 | خوراکی غوړی | 2.50% | 5% |
| 2 | د موټر پرزی | 5% | 8% |
| 3 | نساجی | 2.50% | 3.50% |
| 4 | چاې | 2.50% | 3.50% |
| 5 | مخابراتی سامان الات | 8% | 12% |
| 6 | سګرت | 10% | 16% |
| 7 | نوشابه | 20% | 30% |
| 8 | چرګ | 5% | 10% |
| 9 | فرنیچر | 20% | 30% |
| 10 | دسینګار سامان | 16% | 25% |
| 11 | هګی | 5% | 10% |
| 12 | موټر | 25% | 35% |
| 13 | موټر | 30% | 40% |
| 14 | موټر | 35% | 50% |
| 15 | موټر | 40% | 60% |
| 16 | موټر | 50% | 70% |

**ب: بسپني (بهرني سر چيني)**

د ۱۳۹۴ مالی کال ملی بودجی د تمویل لپاره ټولټال مرستي کابو 302.753 میلیارده افغانی چي 5.311 میلیارده امریکایی ډالرو سره برابر دی چي په ټولیز ډول د ملی بودجي ۷۱٪ برخی تمویلوی. لاندینی جدول د ملی بودجی ټولیزي سرچیني را ښیيي.




لدی جملی څخه 161.784میلیارده افغانی مرستي د (سیستکا، د افغانستان بیاجوړونی امانتی صندوق او د نظم او قانون لپاره امانتی صندوق) او ځینی نورو دونرانو مرستی دی چي د ۱۳۹۴ مالی کال د عادی بودجی د تمویل لپاره وړاندوینه شویدی.

د پرمختیایی پروژي د تمویل لپاره مالی سرچینی ټولټال کابو

140.969 میلیارده افغانیوته رسیږی چی انتقالی (د ۱۳۹۳ کال پاتی بودجه) او نوی سرچینو( اختیاری او غیر اختیاری مرستی) ته شاملیږی.

د پرمختیایی بودجی ټولټال مالی سرچيني ښخه 16.972 میلیارده افغانی (294.6 میلیون ډالر) اختیاری مرستي، 120.528 میلیارده افغاني (2.114 میلیارده ډالر) غیر اختیاری مرستي او 3.649 میلیارده افغانی ( 64 ملیلون ډالر) پورونه دی.

## 2-6. د ۱۳۹۴ مالي کال ملي بودجي لګښتونه:

### الف: د ملي بودجي مجموع

د ۱۳۹۴ مالی کال ملی بودجه ټولټال 436.172 میلیارده افغانی ( 7.652 میلیارده امریکایی ډالر) تخمین شوی چی د کورنیو ناخالصو تولیداتو 32% برخه تشکیلوی. د ۱۳۹۴ مالی کال ملی بودجه د ۱۳۹۳ مالی کال د پیل له بودجي ښخه کابو 7.794ملیارده افغانی (1.8٪) زیاتوالی موندلی دی.

د ملی بوجی له ټولټال ښخه 65% برخه یی عادی بودجه او 35٪ برخه یی پرمختیایی بودجه تشکیلوی، په داسی حال کی چی د ۱۳۹۳ مالی کال ملی بودجي هم ٪۶۵ برخه یی عادی بودجه او ٪۳۵ برخه یی پرمختیایی بودجي تشکیلوله. د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ کلونو ملی بودجی مقایسوی ارقام په لاندی ګراف کی ښود شویدی.




څرنګه چي پورتني ګراف را ښیی د ملی بوجی مجموع د ۱۳۹۳ مالی کال د پیل نه له 428.379 میلیارده افغانیوڅخه د ۱۳۹۴ مالی کال په وړاندوینه کی 436.173 میلیارده افغانی زیاتوالی موندلی دی

د ملی بودجی زیاتوالی د پرمختیایی بودجی د زیاتوالی له امله دی چی تقریباً 4.780 میلیارده افغانی زیاتوالی موندلی دی ، او د ۱۳۹۴ مالی کال عادی بودجی زیاتوالی کابوْ 2 میلیارده افغانیو ته رسیږی. لاندینی ګراف په دری کلونوکی عادی بودجی د امنیتی او ملکی مصارفو پر بنست را ښیی.




پورتنی ګراف را ښیی چی له ۱۳۹۲ کال نه تر ۱۳۹۴ مالی کاله پوری زیاتره د بودجی زیاتوالی د امنیتی سکتور لګښتونه دی. په ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کلونو کی د امنیتی بودجی زیاتوالی تقریباً 70% دی خو په ۱۳۹۴ مالی کال کی 9٪ زیاتوالی را ښیی

د ملکی سکتور (غیر امنیتی) بودجی زیاتوالی د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۴مالی کلونو په موده کی نسبتاً لږ ( 10٪) وه خو د ۱۳۹۴ مالی کال په وړاندوینه کی برعکس 12% کموالی موندلی دی.

## ب: د ۱۳۹۴ مالی کال عادی بودجه

د ۱۳۹۴ مالی کال عادی بودجه 283.486 میلیارده افغانی (4.973 میلیارده امریکایی ډالر) کیږی چی د ټولټال ملی بودجی 65% برخه تشکیلوی. د ۱۳۹۴ مالی کال عادی بودجه چی د دولت عادی لګښتونه تشکیلوی د ناخالصو کورني تولیداتو 21٪ برخه جوړوی.

د عادی بودجی زیاتره برخه تقریباً 56٪ د دولت د کارکونکو تنخواګانی ته ځانګړي شویده. د لاندینی ګراف پربنسټ د عادی بودجی 30٪ برخه د ۲۲ کود (اجناسو او خدمتونو) او ۴ ٪ برخی د ۲۵ کود ( د شتمنیو لاسته راوړل) لګښتونه تشکیلوی.




د احتیاطی او متفرقه کودونو بودجی 10% دی.

د ۱۳۹۴ مالی کال په عادی بودجه کی کابو 3 میلیارده افغانی ( 1 ٪) د ۱۳۹۳ مالی کال د پیل بودجی په پرتله زیاتوالی راغلی دی.

د ۱۳۹۴ مالی کال عادی بودجه د صرفه جویی پالیسیو په نظر کی نیولو سره ترتیب شوی چی پدی صورت کی د ملکی سکتور په لګښتونو کی کابو11% کموالی موندلی دی.

د ۱۳۹۴ مالی کال په عادی بودجه کی مهم تغییرات په لاندی ډول دی:

- **په عادی بودجه کی کموالی:**

د ۲۱ کود ۵٪ سلنه کموالی: د تشکیلاتی راپورنو او ارزونی څخه په ګوته شوی چي د وزارتونو او خپلواکه ادارو په منظور شوی تشکیل کی له ۵-۱۰ سلنه پوری کموالی موجود دی. او په اکثره توګه بودجوی واحدونه د دی خالیګاه نه په استفادی سره پرته لدی چي د اداري اصلی تشکیل د اداري د موخو په مطابقت سره پوره شی د بالمقطع کارکونکو د کارګمارلو او انعامونو په ورکولو لاس پوری کوی.

د عادی بودجی کموالی تنها په ملکي سکتور کی رامنځته شوی چي کابو ٪۵ په ۲۱ کود (مزد او معاشات) او ٪۹ په ۲۲ کود (اجناسو او خدمتونو) کی کموالی منځته راغلی. په همدی توګه په ۲۵ کود (د شتمنیو لاسته راوړل) او په متفرقه او احتیاطی کودنو کی په ترتیب سره ٪۵۰ او ٪۳۰ کموالی رامنځته شویدی

- **د نویو ادارو زیاتوالی:**

د نوی حکومت د پالیسی او تشکیلاتي جوړښت په نظر کی نیولو سره د ۱۳۹۴ مالی کال په بودجه کی دوه نوی اداری چي ۱- اجرائیوی ریاست دفتر او ۲- ملی اقتصادی شورا اداري په نظر کی نیول شویدی.

## ج: پرمختیایي بودجه:

د ۱۳۹۴ مالی کال پراختیایي بودجه 152.686 میلیارده افغانی (2.678 ملیارده امریکایی ډالر) وړاندوینه شویدی چي د ملی بودجی له ټولټال څخه ٪۳۵ برخه او د ناخالصو توالیداتو ٪۱۱ برخه تشکیلوی. د ۱۳۹۴ مالی کال پراختیایی بودجه د ۱۳۹۳ مالی کال له پیل بودجی په پرتله 4.7میلیارده افغانی (٪۳) زیاتوالی موندلی دی. پرمختیایی بودجی د غیر اختیاری بودجی په برخه زیاتوالی موندلی چي ټولټال ٪۲۷ ته رسیږی چي دا د ۱۳۹۳ کال د غیر اختیاری پروژو نا مصرف شوی (انتقالی) بودجی کابو ٪۵۲ زیاتوالی او او هم نوی غیر اختیاری بودجی ٪۱۷ زیاتوالی ته شامیلیږی.

اما برعکس د ۱۳۹۳ مالی کال د پیل بودجی (اختیاری بودجه) په پرتله د ۱۳۹۴ مالی کال په اختیاری بودجه کی ٪۴۳ کموالی رامنځته شویدی چي په لاندی جدول کی په تفصیل سره ښودل شویدی:




څرنګه چي لیدل کیږی د ۱۳۹۴ مالی کال په اختیاری بوجه کی د ۱۳۹۳ مالی کال دپیل له بودجی څخه کابو 21.611 میلیارده افغانی (٪۴۳) کموالی ښیی چي ٪۸۲ په نوی اختیاری بودجه کی کموالی رامنځته شویدی.

اما د ۱۳۹۴ مالی کال په غیر اختیاری بودجه کی د ۱۳۹۳ مالی کال غیر اختیاری بودجی په پرتله 26.391 میلیارده افغنی زیاتوالی منځته راغلی چي د 12.348 میلیارده افغانی د نوی غیر اختیاری بودجی په برخه کی زیاتوالی او 14.044 میلیارده افغانی د ۱۳۹۳ کال د نا مصرف شوي پروژی (انتقالی) بودجی څخه تشکیل شوی. د انتقالی بودجی رقمونه د روان کال د لیندی میاشتی د ۳۰ نیټی

راپور پربنسټ محاسبه شوی  او د نا مصرف شوی بودجی دقیق رقمونه به د بودجوی واحدونو د قطعیی د وروستی راپور پر بنست به محاسبه شی.

د مالی سرچینو د محدودیتونو په نظر کی نیولو سره د ۱۳۹۴ مالی کال په بودجه کی په لومړی پړاو هغو بنسټیزو پراختیایی پروژو ته لومړیتوب او تخصیص له اختیاری پرمختیایی بودجی څخه و رکړشوی چی د پلی کیدو په حال کی دید ۱۳۹۴ مالی کال د پرمختیایی بودجی کسر کابو 8.434 میلیارد افغانۍ  147.976میلیون ډالر) د اختیاری بودجی په برخه کی اټکل شوی.

اګرچه د ۱۳۹۴ مالی کال بودجه په استثنائی توګه طرح شویده خو د نوي پروژو د شاملولو پالیسی په کلی توګه تغییر کړی چی پدی صورت کی هره پروژه چې ځیړنیز مکمل اسناد ونلری او د دولت د لومړیتوبونوسره سمون ونلری په بودجه کی نه نیول کیږی.

## 7-  د تیرو څو کلونو لاسته راوړنو ته لنډه کتنه:

افغانستان د تیرو لسو کلونو په لړ کې کره او حیاتی لاسته راوړني درلودی چې په لنډ ډول د یاونې وړ دي. د افغانستان اسلامی جمهوریت د تیر لسو کلونو په لړ کې د اقتصادی پرمختایې پلان پربنسټ (۱۳۹۲-۱۳۹۵) کلونو کې په اوسط ډول په کال کې ۹ سلنه د ناخالصو تولیداتو وده درلوده، او د (۱۳۸۵-۱۳۹۱) کلونو په منځ کې ۳.۲ نه تر ۱۷,۲ سلنه پورې په تغیر کې وو. د یو کس ناخالصه عواید له ۲۰۷ ډالرو نه په ۱۳۸۱ کال کې تقریباْ ۷۸۶ ډالرو ته په ۱۳۹۳ کال کې زیاتوالې راغلي چې تقریباْ ۲۸۰ لسنه زیاتوالي ښیې.

د پولیسو، ملی اردو او ملی امنیت د ځواکونو جوړلول او په مجهز ډول د دفترونو او قطعاتو د سره سمبالول چې د ټول هیواد د ساتنې هوډ لري په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) د ایساف له نظامی ځواکونو نه د امنیت د سکتور یوه کره لاسته راوړنه ده، چې ترڅنګه یي تقریباْ ډیري زیاتې ودانې، دفترونه او نظامي قطعي چې د نړیوالې ټولنې پر مرسته جوړي شوي او سپارل شوي دي.

د ۱۰ قانونو نه ډیر طرحه او د کابیني او ملی شورا د مجلسینونو لخوا تصویب شوی، د جمهوری ریاست  د دری دورو ټولټاکنو، د ولایتی شوراګانو، ولسی جرګې او ملی شورا د ټولټاکنې په لاره اچول، د حاجیانو د لیږدولو تنظیم بیت الله شریف ته، د عدلی او قضاي سکتور د مرکزی او ولایتی ادارو بیارغونه او ودانول او داسی نور د واکمنۍ او د قانون د حاکمیت د سکتور کره لاسته راوړني دي.

د تیرو لسو کلونو په لړ کې د سرکونو د جوړولو او ودانولو (لوي لاري، ولایتی او د ولسوالیو سرکونو) ته د پام وړ پانګه اچونه شوي ده، تخمیناْ ۱۴۳۰ میګاواټه د بریښنا انرژي له کورنې او وارداتې د بریښنا بندونو نه برابره شوي ده، د بریښنا د لوي او کوچنیو د بندونو بیارغونه او ودانول د دی سکتور کره لاسته راوړني دي. اکثریت هوای ډګرونه بیارغول شول دي او له ۱۰ هوای ډګرونو نه ډیر نوی ودانول شوي دي. د مخابراتي خدمتونو عرضه کول چې تقریباْ ۸۰ نه تر ۹۰ سلنه د هیواد خلکو ورته لاسرسي موندلې دي د تیرو لسو کلونو کره بریالیتوب ګڼل کیږي. د نفت او کانونو پرمختګ چې اقتصادی وده یې رامنځته کړي ده، د کار زمینه او د عوایدو زیاتوالي رامنځته کړي دي په دی برخه کې د پام وړ پانګه اچونه شوي ده او همدارنګه د کانونو او نفت په برخه د قوانیونو او طرزالعملونو طرحه او تصویب ډیري زیاتې اسانتیاوي د دی سکتور د قانوني پانګه اچونې په برخه کې رامنځته کړي دي.

د تیرو ۱۰ کلونو په بهیر کې تخمیناْ ۵.۹ میلیونه د هیواد هلکان او نجونۍ عمومی پوهنې ته لاره موندیلي ده او له ۳۰۰ زرو نه ډیر اسلامي پوهنې ته او همدارنګه تخمیناْ ۱۰۰ زره کسان تخنیکې او مسلکی پوهنې کې ځای پرځای شوي دي. همدارنګه ۸۰۰ زره کسان د سواد د زدکړو له پروګرامونو نه څخه ګټه اخیستې ده. د ۱۰ زرو نه ډیر ښوونځې بیارغول او ودان شوي دي، د پوهنې نصاب بیا کتل شوی او چاپ شوي دي او همدارنګه د اړتیا وړ درسی مواد اکثریت ښوونځیو ته برابر شوي دي.

د محصلینونو شمیر په پوهنتونو کې او د دولتی او خصوصی لوړو زدکړو موسسو کې تخمیناْ ۲۲ زرو کسانو نه په ۱۳۸۱ کال کې ۲۰۰ زرو کسانو ته په ۱۳۹۲ کال کې زیاتوالې راغلي دي. همداډول د پوهنتونو او دولتی او خصوصی لوړو زدکړو موسسو شمیر له ۱۷ نه د ۱۵۰ نه ډیر زیاتوالي موندلې دي. د اکثریت پوهنتونو او لوړو زدکړو موسسو ودانې بیارغول شوي او ډیر شمیر یې نوی ودانول شوي دي، سربیره پردي د بدني روزنې او سپورت په برخه کې ډیري زیاتې مهمی لاسته راوړنې شوي دي چې د هیواد افتخار ګڼل کیږ.ي.

د کورنې تولیداتو ناخالصه وده په دي کلونو کې د کرهنی ودي سره متناسبه وه، په تیرو څو کلونو کې د کرهنی په سکتور کې پانګه اچونه د کرهنیزو توکو د زیاتوالې، د غلو په ځان بسیا او د کرهنی ودي لامل ګرځیدلی ده چې د تیرو څو کلونو لاسته راوړنې دي.

د ولسوالیو او کلیو په کچه د مواصلاتی لارو ، د کلینیکونو، ښوونځیو، د مالداری او چرګانو کوچنی فارمونو ودانول، کوچنۍ مسلکی دندي لکه خیاطی او د بریښنا د اوبو کوچنۍ بندونو ودانولو په برخه کې کتلی پرمختک رامنځته شوي دي.

همدارنګه د مهارتونو او مسلکی پوهې د پرمختګ برنامه چې له کار او ټولنیزو چارو وزارت لخوا مخته وړل کیږ.ي هم ښه لاسته راوړنې لري او ډیر شمیر فارغین یې په یو مناسب عاید سره دندي ته ګمارل شوي دي.

د کورنی عوایدو زیاتوالی تخمیناً له ۴۰ میلیاردو افغانیو نه په ۱۳۸۷ کال کې تخمیناً ۱۰۹ میلیاردو افغانیو ته په ۱۳۹۲ کال رسیدلی دي چې تخمیناً دري چنده زیاتوالي ښیي چې د کورنیو عواید په راټولوو کې مهمه لاسته راوړنه ده.

د تیرو څو کلونو په بهیر کې د افغانستان د بودجې د روڼتیا زیاتوالي د عامه مالی چارو د مدیریت او لګښتونو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه ګڼل کیږي، د بودجې د ارزوني او راپور ورکوني د شاخص پربنسټ (OBI) نړیوال غیر دولتی سازمان (د بودجې نړیوال مشارکت IBP) د افغانستان د بودجې روڼتیا له ۸ درجو نه په ۲۰۰۸ کال کې،۲۱ درجه ته په ۲۰۱۰ کال کې او په ۲۰۱۲ (۱۳۹۱) کال کې ۵۹ درجو ته رسیدلې ده. د یادشوي راپور پربنسټ، د افغانستان د بودجې روڼتیا د سویل ختیز آسیا په هیوادونو کې دوم مقام لري.

د تیرو څو کلونو لاسته راوړنو تفصیل په دې سند کې د ځای کیدولو وړ ندي او پورتني مالومات په لنډ ډول وړاندي شوي دي.

## 8- د ۱۳۹۴ ملي د بودجې لنډیز او د ۱۳۹۳ کال لاسته راوړني د سکتورنو پر بنسټ

### 8-1. د امنیت سکتور

#### د ۱۳۹۴ مالی کال د بودجې لنډیز




د امنیت سکتور بودجه تخمیناً 192.156 میلیارد افغانی کیږي، چې د ملی بودجې ډیره برخه (۴۴) سلنه بودجه رانغاړي. د دی سکتور ډیره بودجه د عادی بودجې په برخه کې ځانګړي شوي ده چې د ملی اردو او پولیسو د لګښتونو په برخه کې تری نه استفاده کیږي او قسماً له کورنیو عوایدو او بهرنیو مرستو څخه تمویل کیږي.

کومې اداری چې په دې سکتور کې ونډه لري د هغو بودجه په مخامخ ګراف کې ښودل کیږي.

لکه څرنګه چې تاسو ته ښودل کیږي د امنیت د سکتور د بودجې ډیره برخه چې تخمیناً ۹۲ سلنه د ملی دفاع او کورني چارو وزارتونو ته ځانګړي شوي ده.

د ملی دفاع وزارت د 103 میلیاردو افغانیو د بودجې په درلودولو سره او د کورنیو چارو وزارت د 72 میلیاردو افغانیو د بودجې په درلودلو سره په لمړي او دوهمي درجې کې قرار لري.

#### په لنډه توګه د ۱۳۹۳ مالي کال لاسته راوړنې

په لنډه توګه د امنیت د سکتور لاسته راوړني د ۱۳۹۳ مالی کال په ترڅ کې په لاندي ډول دي:

- د امنیتي ځواکونو د هڅو او کنترول له مخې ۸۳۴۶۸۸ کیلوګرامه بیلابیل ډولونه کلک او اوبه لرونکی توکي لاسته راغلي دي، ۹۵ لابراتوارونه ویجاړ شوی، ۱۷ ولایتونه کې د کوکنارو کرونده صفر شوی او همدارنګه ۱۰۵۲۲۱ جریبه ځمکه پاکه شوي ده.
- د پولیسو د مسلکی پوهنې د ظرفیت لوړولو په موموخه ستاف کالج جوړو شوي دي چې په تیر کال کې ۲۳۵۰ کسان ترینه فارغ شوي دي او هغې ټولګې نه ۱۰۱۷ کسان د ظرفیت لوړولو په برخه کې او پاتي برخه یې د مشرتوب په برخه کې روزنه لیدلې ده.
- د ۳۸۵ ودانیو ودانول، ۲۲۰ وداني د کار لاندي او د ۱۵۹ ودانیو تاسیسات د قرارداد لاندي دي.
- د روزنوونکو پرسونل ګمارل په مرکزي قطعاتو او سیمیزو قول اردوګانو کې د محاربوي وړتیاوو په موخه چې وکولاي شي په خپلواک ډول خپلي دندي د هیواد په دفاع کې ترسره کړي.
- د امنیتي لیږد بهیر پنځم او شپږم پړاو په بریالیتوب سره بشپړ شو او انشاالله د دی کال تر پاي پوري به دا بهیر بشپړ شي.
- د امنیتی او دفاعی مرکزونو جوړولو په هغو سیمو کې چې د امنیت دنده یې د ملی اردو ځواکونو ته سپارل شوي ده په مطمئن ډول له هغه نه دفاع شوي ده.

- د (۵۰۳۰) شمیر منسوبینو تشکیلاتي تدابیر د ۶ ګوني کمپونو په هلمند، لوګر، قندهار او هرات کې د امنیت د ټینګښت او ساتنې په موخه چې د ایتلاف د ځواکونو لخوا د ملی دفاع وزارت ته سپارل شوي دي، تیاری نیول شوي دي او په نژدې راتلونکي به پلي شي.
- د سفارتونو جوړول په سویډن، سریلانکا هیوادونو کې او د افغانستان د اسلامی جمهوریت د سرقونسلګری جوړول د قزاقستان په الماتا ښار کې.
- د (۴۴۴،۴۶۲،۰۵۳) افغانیو عواید راټولو له مرکز او د افغانستان د اسلامی جمهوریت له سیاسی او قونسلی نمایندګیو نه د ۱۳۹۳ مالی کال د دریمې ربعې تر پای پورې.
- د ۳۵۰ جریبه ځمکې احاطه په دارالامان کې، د دیپلومات استوګن ځایونه بهرنیو سفارتونو ته.

| د امنیت سکتور د عادی او پرمختیایی بودجې د تخصیصاتو او لګښتونو راپور<br>د ۱۳۹۳ مالی کال (د مرغومې ۰۱ - لیندی ۳۰) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وزارتونه/اداري | د ۱۳۹۳ مالی کال منظور شوی بودجه | | | | | |
| | عادی بودجه (میلیون افغانی) | | | پرمختیایی بودجه (میلیون دالر) | | |
| | بودجه | تخصیصات (%) | لګښتونه (%) | بودجه | تخصیصات (%) | لګښتونه (%) |
| د ملی امنیت شوری او د رئیس جمهور د ساتنې ریاست | 1,357.85 | 100% | 96% | 2.63 | 39.2% | 10.3% |
| د ملی دفاع وزارت | 103,342.61 | 100% | 64% | 127.76 | 88.3% | 88.3% |
| د کورنیو چارو وزارت | 3,334.90 | 100% | 96% | 22.30 | 58.9% | 50.0% |
| د بهرنیو چارو وزارت | 66,543.0 | 98% | 87% | 236.51 | 66.8% | 61.4% |
| د ملی امنیت لوی ریاست | 11,071.4 | 100% | 100% | 3.29 | 46.8% | 32.4% |
| **د امنیت سکتور ټولټال** | **185,649.7** | **99%** | **75%** | **392.5** | **75.9%** | **71.8%** |

## 2-8. د واکمنۍ سکتور

### د ۱۳۹۴ مالی کال د بودجې لنډیز

د واکمنۍ او د قانون د حاکمیت سکتور بودجه تخمیناً 3.7 سلنه د ملی بودجه ټولګه رانغاړي چې لدی جملې څخه په عادی بودجې کې تخمیناً 4.6 سلنه او په پرمختیایي بودجې کې تخمیناً 2.1 سلنه سهم لري. د دی سکتور د بودجې تفصیل د ادارو پربنسټ په لاندې ګراف کې ښودل کیږي.



**په لنډه توګه د ۱۳۹۳ مالي کال لاسته راوړنې**

- د سیمه ایزو ادارو د قانون جوړول، د ښاروالیو نوی قانون، د سیمه ایزو شوراګانو د قانون ارزونه او تصویب، د اداري او مدني ټولنو ترمنځ د همغږۍ د جوړولو میکانیزم، د ملی لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پربنسټ د پلانونو جوړول، د دولتي شتمنیو بیرته لاسته راوړل، د کابل په ولایت د شکردره په ولسوالي کې د یو نوی کلي جوړول، د بیلابیلو ښخړو هوارول د نوی اداری واحدونو د جوړلو په اړه او د سیاسی، اداری او د کلیو چارو د سرحدونو تثبیتول، د نظارت او ارو‌زنې د پراختیا چوکات د سیمه ایزې واکمنی لپاره او د لوړو چارواکو لخوا د هغې تصویب، مرکزی ریاستونو ، ولایتي مقاماتو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو د کړنو لپاره د ۴ پوښتن پانو پراختیا، او په سیمه کې د ۸ ګونو سکتورونو د ارزونې پرمختګ.
- د ولسوالي د ۹ وادنیو ودانول او بشپړول، د استوګنې یو منزله او دوه منزله بلاکونو ودانول، د اسلامی فرهنګ د مرکز د ملیمستون د یوې وداني ودانول، د غزنې د اسلامی فرهنګ مرکز د سیمې د سرکونو او پیادرونو جوړول، د یو محراب جومات ودانول، د بریښنا سیستم، کانالیزسیون، یو باب صالون، د غزنی د اسلامی فرهنګ مرکز د اوبو رسولو سیستم او د پارکینګ جوړول او همدارنګه د غزنی ولایت د یو کیلو متر ښستیز او پوخ سرک BST ودانول، د غزنی د ولایت د اسلامی فرهنګ مرکز د سرپټې بازار ودانول، د کندوز ولایت د خان آباد د ولسوالیو د دفترونو سمبالول او برابرول، د فراه ولایت یوه ولسوالي او د فاریاب ولایت د اندخوی ولسوالي، د ولسوالیو د همغږۍ شورا د میکانیزم او د پالیسي جوړول، د ښاروالیو د ارزونې او تثبیت د پروګرام بشپړول، د ولایتونو او ولسوالیو د ۳۰ دفترونو سمبالول، د ښاري خدمتونو د قانون جوړول او بشپړول، د ښاروالیو د اصنافو د ثبت او لیکنې د سیستم جوړول، د ښاروالي سربیره د ۳۰ عایداتی سرچینو پیژندنه، د ښاروالیو اړونده ۶۷ قراردادنو د پړاونو ترسره کول، په ۳۰ ښاروالیو کې د ښاروالیو د مشورتي بورډ جوړول، د ۲۰۰ کیلومترو سرک جوړول، د ۱۵۰ تفریحي پارکونو جوړول، د ۲۰۰ کیلومترو فرعی سرکونو جوړول، د ښځینو او نارینو تشنابونو ودانول، د ۸ میلیون نیالګیو کښت، د ۲۵ کلن ماستر پلان جوړول.
- د ملیکت لیږد او د شرعی قباله اخیستل له اریانا شرکت نه سیمه ایزې خپلواکې اداري ته، په مرکز او ولایتونو کې د ۶۸ تدارکاتي قراردادنو منظوری او اجرااکول، د مرکز او ولایتي ښاروالیو لپاره د بریښنایي ډیټابیس جوړول، د مرکز او ۱۳ ولایتونو په کچه د مالوماتي تکنالوجي سیستم جوړول، د انترنیت د شبکې غزول د دفترې ادارو کمپیوټرونو ته، د ښځینو په وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړل او د ښځینو ګمارل دولتی ادارو ته په مرکز او غزنی، میدان وردک، لوګر، کاپیسا، ننګرهار او لغمان ولایتونو کې. په مرکز او ولایتونو کې ښځینو کارکوونکو لپاره د ډیټابیس جوړول، رئیسانو، د ولایتي شوراګانو او ولایتی مالی مسولینو لپاره د بودجې جوړونې په اړه د وکشاپونو دایرول، د بودجې، محاسبې او دفترداري آمریتونو لپاره د ډیټابیس جوړول، په ۳۴ ولایتونو کې د ولسوالیو، ولایتی شوراګانو او ښاروالیو د مالی او حسابی چارو څارنه او ارزونه.
- د عامي روغتیا، مخابراتو او مالوماتي ټکنالوژۍ او کار او ټولنیزو چارو په وزارتونو کې د (۹) کاری بهیرونو د ساده کولو پروسه په پام کې نیول شوي وه چې له سرکال د ۹ میاشتو په ترڅ کې ۷۵ سلنه پرمختک به پکښې رامنځته شي.
- د ملکي کارکوونکو د ګمارلو په پروسه کې د رقابت، روڼتیا او عدالت رامنځته کول او همدارنګه د وظیفوی فرصتونو رامنځه کول ترڅو د ځوانو تحصیلی کدرونو جذب شي په همدی توګه وکولاې شو د ۱۳۹۳ مالي کال په ۹ میاشتو کې ۲۴۹۹۴ خالی بستونه په مرکز او ولایتونو کې به ګمارنې د رقابتي بهیر له لارې ډک شي
- د قانون پلې کول او د اداری عدالت تأمینول او همدارنګه د ملکی خدمتونو د کارکوونکو د ګمارلو او اداری کړونو په سیمه کې د هغوي شکایتونو ته رسیدل. په دي پروګرام کې د ۸۵۰ ملکي خدمتنونو کارکوونکو شکایتونو ته په مرکز او ولایتونو کې پام شوي وو چې د روان کال د ۹ میاشتو تر پایه پوري به د ۸۴۲ کسانو شکایتونو ته به د حل لاره پیدا شي
- په ملکی خدمتونو کې د جنسیت یا جندر د برابری لپاره د پالیسي طرحه او پلې کول او همدارنګه د پلې کول نه یې ارزونه تر څو په ملکی خدمتونو کې د ښځینو د ګډون کچه کې د ډیروالي را منځته شي، د ښځینوو کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول او همدارنګه په ملکي خدمتونو کې د توپیر یا تبعیض مخنیوي، چې د روان ۱۳۹۳ مالی کال کې د ۹ میاشتو تر پایه به په ۳۱ وزارتونو کې د جندر یا جنسیت د برابري د پالیسي له پلی کولو نه ارزونه وشي.
- د کمیسیون یوه عمده لاسته راوړنه د ښځینو کاري وړتیا تر څو د ښځو ونډه د پریکړو نیولو او مدیریتی بستونو کې ډیره شي. پدي پروګرام کې د دولتی خپلواکو ادارو او وزراتونو د ۸۵۰ ښځینو کارکوونکو د ظرفیتونو د لوړولو د مدیریت په برخه کې په پام کې نیول شوي وو چې د روان ۱۳۹۳ مالی کال د ۹ میاشتو تر پاې پوري ۷۳۴ کسان به وروزول شي.
- په دایمي ډول د کمیسیون د تشکیل طرحه، جوړول، تصویبول او منظورول، د مرکزی او ولایتي دفترونو د کارکوونکو ګمارل، د ولایتي کمیشنرانو ګمارل، په ۳۴ ولایتونو کې دولایتي دفترونو جوړول، په مرکز او ولایتونو کې د کمیسیون د کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول.
- د سترې محکمې د عامه امنیت د دیوان - ۲۰۹۰ پریکړي شوي او مسترد شوي دوسیې ، د سترې محکمې د عامه مدنی حقونو د دیوان -۳۰۰۰ پریکړه شوي او مسترد شوي دوسیې، د سترې محکمې د سوداګرې د یوان-۵۶۰ پریکړه شوي او مسترد شوي دوسیې، د کورنې، بهرنې او نظامی امنیت د جرمونو پر وړاندې د دیوان-۱۳۹۳ پریکړه شوي او مسترد شوي دوسیې.

- ولسي جرګې ته د اساسي قانون د (۶۴) مادي او (۱۱-۱۲) مادي او (۱۲) پربنسټ د (۱۲) ادارو پيژندنه او د رائی اخيستلو لپاره د يو مناسبې فضأ جوړول، د استيضاح لپاره د حکومتی چاراوکو د شتون تنظيمول، استماع او استجواب په عمومي غونډو او د ملی شورا د کميسيونونو په غونډو کې، د (۲۳) شميرو قوانينونو او ملی بودجې د تصويبولو په اړه د آسانتياو برابرول او پيژندل، د حکومت د تقنيني لومړيتوبونو په ګوته کول او د قانون د پلي کولو زغلنده بهير.

- د ۱۳۹۳ کال د ملی بودجې تصويب، د سارک د غذايي توکو بانک جوړولو لپاره د هوکړه ليک تصويب.

